## قرآني بيان په نوم د

# قرآن لاریب کتاب دے

د مدني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه امامِ مساجد (دعوتِ اسلامی) لاندې جومتونو د

31 January 2025



## د جُمعةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 31 جنورى، کال 2025ء ( 30 رَجَبُ المُرَجَّب، کال 1446ھ) د جُمعةُ المبارک

قرآني بيان پۀ نوم د

# قرآن لاَرَیب کتاب دے

پہ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د سُورَةُ البَقَرَه مختصر تعارف او فضائل
- د شيطان خبيث ذلالت
- حروف مقطعات راز دے
- غير مسلمه کلمه ولوستله او مسلمان شو
- دقرآن فرياد

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

تجاويز و شکايات

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

کوم کَس چې د نبئ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبر مبارک پۀ خوا کښې ودرېږي او دا آیت مبارک ولولي:

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىٕكَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا (۵۶) (پاره:22، سورۀ احزاب:56)

**ترجمۀ کنزُ العِرفان:** بے شکه الله او د هغۀ فرښتے پۀ نبي باندې درود لیږي. اے ایمان والؤ! پۀ هغوئي باندی درود او ډیر ډیر سلام ولیږئ۔

(د دې نه پس) صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْكَ یَا مُحَمَّد (یعني یَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! الله پاک دې پۀ تاسو باندې رحمت نازل کړي) دا 70 کرته ولولي نو فرښته اواز کوي: اے فلانکیه! الله پاک دې پۀ تا باندې هم رحمت نازل کړي، **ستا ضرورت به پوره شي-** [1]

تم ہو جَواد و کریم ،تم ہو رَؤف و رَحیم | بھیک ہو داتا عَطا تم پہ کروروں درود [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1... شُعَبُ الایمان، جلد:3 ، صفحه:492، حدیث:4169۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه:269۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د جُـمعةُ الـمبارک پهٔ تیرو یو څو اجتماعاتو کښې مونږه د **سورۂ فاتحه** وضاحت او د هغې نه د میلاؤیدونکو اهمو مَدَني ګلونو د اوریدو سعادت حاصل کړو، د نن نه به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! **سُورۂ بَقَرہ** شروع کیږي، الله پاک دې مونږ ته د پوره ذوق او شوق سره د پوره بیان د اوریدو، پهٔ دې باندې د پوهیدو او نورو ته د رسولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سُورۃُ الـبَقَرَہ مختصر تعارف او فضائل

✿ **سُورۂ بَقَرَہ** پهٔ مدینه منوره کښې نازل شوے د ټولو نه وړومبے سورت دے- [1] ✿ پهٔ دې کښې 40 رکوع او 286 آیتونه دي- [2] ✿ **سُورۂ بَقَرَہ** د قرآنِ کریم د ټولو نه لوئې، ډیر د برکت والا او د فضیلت والا سورت دے ✿ حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: پهٔ (صحابۂ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان) کښې چې به کله چا **سُورۂ بَقَرَہ** او **سُورۂ آلِ عمران** زده کړو نو پهٔ مونږ کښې به هغوئې ډیر د اوچتې مرتبې والا ګڼلے کیدلو- [3] ✿ پهٔ **حدیثِ پاک** کښې **سُورۂ بَقَرَہ** او **سُورۂ آلِ عمران** ته زَهرَاوَین (دوه پړقیدونکي سورتونه) وئیلے شوي دي- رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اِقْرَؤُوا الزَّهْرَاوَیْنِ الْبَقَرَةَ وَسُوْرَةَ آلِ عِمْرَان یعنې د دوو پړقیدونکو سورتونو **سورۂ بَقَرَہ** او د **سُورۂ آلِ عمران** تلاوت کوئ! ځکه چې **د قیامت پهٔ ورځ باندې به دا دواړه سورتونه د خپل لوستونکي شفاعت کوي**- [4] ✿ حضورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم فرمائي: اِقْرَءُوا سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ فَاِنَّ اَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ وَلَا يَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ یعنې د **سُورَ بَقَرہ**

---

1... تفسیرِ خازن ، پاره:1، سورۂ بقره، جلد:1 ، صفحه:22-
2... تفسیر صراط الجنان، پاره:1 ، سورۂ بقره، جلد:1 ، صفحه:56-
3... مسند امام احمد، جلد:5 ، صفحه:341 ، حدیث:12544-
4... مسلم، کتاب صلاة المسافرین ، باب فضل قراءة القرآن ...الخ، صفحه:290، حدیث:804 ملتقطًا-

تلاوت کوئ! ځکه چې سُورۀ بَقَرَه لازم نیول برکت دے، دا پرېښودل خفګان دے او جادوګر د دې د مقابلې کولو طاقت نۀ لري-[1]

## د شیطان خبیث ذلالت

یو ځل حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تشریف فرما وو، خلقو ته یې دِین ښودلو، هغوئي د یوې واقعې پۀ بیانولو وفرمائیل: یو صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چرته روان وو، پۀ لاره کښې د هغوئي سره شیطان میلاؤ شو، هُغه صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شیطان ګیر کړلو، دواړو کُشتي وکړه، صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شیطان راغورځولو، شیطان ووئیل: ما پرېږدئ! زۀ به تاسو ته یوه خبره وکړم- صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شیطان پرېښودو خو شیطان د خپلې ژبې نه واوختو او هغۀ خبره ونکړه- صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بیا شیطان راګیر کړو، بیا یې راوغورځولو، پۀ دې ځل شیطان بیا ووئیل: ما پرېږدئ! زۀ به تاسو ته عجیبه خبره وکړم- صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بیا پرېښودو، شیطان بیا د خپلې ژبې نه واوختو او اوئې وئیل: زۀ درته نۀ وایم- هُغه صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ دریم ځل بیا شیطان راګیر کړو، ښکته یې راغوځار کړو او دا ځل یې پۀ سینه باندې کښیناستو او د هغۀ پۀ مرۍ باندې یې غټه ګوته کېښودله او اوئې وئیل: ووایه چې پرېږدم دې، ګنې نو نۀ دې پرېږدم- بیا شیطان خبره وکړه او اوئې وئیل: پۀ یو ځائے کښې که ډېر شیطانان راجمع وي، د هغوئي پۀ مینځ کښې که د **سُورۀ بَقَره** یو آیت ولوستلے شي نو هُغه ټول شیطانان به وتښتي او پۀ کوم کور کښې چې د **سُورۀ بَقَره** یو آیت ولوستلے شي، هُغه کور ته شیطان نشي داخلیدے-

دا واقعه چې یې بیان کړله نو خلقو د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه پوښتنه وکړه: هُغه صحابي څوک وو؟ اوئې فرمائیل: نور څوک کیدے شي؟ هغۀ د مسلمانانو دویم

1... مسلم، کتاب صلاۃ المسافرین ، باب فضل قراءۃ القرآن ...الخ، صفحه:290، حدیث:804-

خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وو-

سُبْحٰنَ الله! (1)

گلی سے اُن کی شیطاں دُم دبا کر بھاگ جاتا ہے

ہے ایسا رُعب ایسا دبدبہ فاروقِ اعظم کا (2)

هر صحابيِ نبي! جَنَّتي جَنَّتي تولي صحابِياتي هُم! جَنَّتي جَنَّتي
څلور ياران د نبي! جَنَّتي جَنَّتي حضرتِ صديق هُم جَنَّتي جَنَّتي
او عُمر فاروق هُم جَنَّتي جَنَّتي عُثمانِ غني جَنَّتي جَنَّتي
فاطِمه او علي جَنَّتي جَنَّتي حسن او حُسين هُم جَنَّتي جَنَّتي
والدين د نبي جَنَّتي جَنَّتي هر زَوجهٔ نبي جَنَّتي جَنَّتي
ابُو سُفيان هُم جَنَّتي جَنَّتي او مُعاوِيه هُم جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## کور به د شمعې پهٔ شان ځليدلو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د سُورَهٔ بَقَره پهٔ برکت سره د شيطان نه، د کوډو جادو وغيره نه حفاظت کيږي، مونږ له پکار دي چې مونږه پهٔ خپلو کورونو کښې د سُورهٔ بَقَره تلاوت کوو- يو صحابئ رسول دے: حضرت ثابِت بن قيس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ- د شپې به د هغوئي کور داسې ځليدلو لکه چې شمع بليږي- خلقو د دواړو جهانو د آقا،

1... تفسير دُرِّ منثور، پاره:1، سورهٔ بقره، جلد:1 ، صفحه:52-
2... وسائلِ بخشش، صفحه:526-

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې د دې خبره ذِکر وکړو نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **ثابِت بن قيس به ضرور د شپې د سُورۀ بَقَره تلاوت کوي-** نو د حضرت ثابِت بن قيس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه چې پۀ دې باره کښې پوښتنه وکړے شوه نو هغوئي ووئيل: آؤ! واقعي چې زۀ د شپې د **سُورۀ بَقَره** تلاوت کووم-[1]

سُبۡحٰنَ الله! خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! د **سُورۀ بَقَره** د لوستلو څنګه څنګه برکتونه دي! چې مونږه هم نيت وکړو چې روزانه به د **سُورۀ بَقَره** څۀ نا څۀ تلاوت لازمي کوو- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

چھوڑو! یہ ظلمتوں کے شکوے کرو نہ ہر دَم | ہے روشنی کی خواہش؛ قرآن پڑھ کے دیکھو

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

د **سُورۀ بَقَره** د وړومبي او دويم آيت پۀ باره کښې به نن مونږه د يو څو مَدَني ګلونو د اوريدو سعادت حاصلوو- الله پاک دې زمونږه د قرآن د نُور نه حصه نصيب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د سُورَةُ البَقَره، آيت: 1 او 2

## الله پاک د سُورَۀ بَقَره پۀ آيت 1 او 2 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| الٓمّٓ(1) ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ<br>(پاره:1، سورۀ بقره:1-2) | ترجمۀ کنزُ العِرفان: الٓمّٓ۔ هٰغه لويه مرتبه لرونکے کتاب چې د هيڅ شك ګنجائش پکښې نشته. |

**الٓمّٓ**: دا حروفِ مُقَطَّعَات دي- د قرآنِ کريم د مختلفو سورتونو پۀ شروع کښې داسې

1... تفسير دُرِّ منثور، پاره:1، سورۀ بقره، جلد:1 ، صفحه:52۔

حروف راځي، مثلاً "الٓمّٓ، الٓمّٓصٓ الٓرٰ" وغيره- دې ته حروفِ مُقَطَّعَات وئيلے شي- د مُقَطَّعَات په باره کښې صحيح او ښه خبره دا ده چې اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ بِمُرَادِهٖ يعنې د دې حروف مُقَطَّعَات په مطلب او معنیٰ باندې الله پاک بهتر پوهيږي يا د الله پاک په عطا سره د هغهٔ محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرې پوهيږي- [1]

مِيَانِ طالِب و مَحْبُوب رَمْزِيْسْت | کراماً کاتِبِين رَا هَم خَبَر نِيْسْت

**مفهوم**: يعنې الله پاک او د هغهٔ د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مينځ کښې داسې رازونه هم دي کوم چې کراماً کاتِبِين او فرښتو ته هم معلوم نهٔ دي-

## حروفِ مُقَطَّعَات راز دے

د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: فِيْ كُلِّ كِتَابٍ سِرٌّ وَسِرُّ اللّٰهِ تَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ اَوَائِلُ السُّوَر يعنې د هر کتاب يو راز وي او په قرآنِ کريم کښې د الله پاک راز د سورتونو په شروع کښې راتلونکي حُروفِ مُقَطَّعات دي- [2]

## د يو غير مسلمه اعتراف

يو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُورَهٔ بَقَره تِلاوت کولو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولوستل:

الٓمّٓ (1) ذٰلِكَ الْكِتٰبُ

حُيَي بِن اَخطَب څوک چې يهودي وو، هغهٔ ته چې کله معلومه شوه نو هغهٔ په تادئ

---

1... تفسير صراط الجنان، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت :1، جلد:1 ، صفحه:59 ماخوذًا-

2... تفسير بغوی، پاره:1 ، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:1 ، جلد:1 ، صفحه:11-

بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته راغلو او پوښتنه يې وکړه: اے مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)! دا څۀ چې تاسو ولوستل، آيا دا د الله پاک کلام دے؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: آؤ! دا د الله پاک کلام دے۔

حُیَیۡ بِنۡ اَخۡطَبۡ دعِلۡمُ الۡاَعۡدَاد ماهر وو، نو هغۀ شميره شروع کړه: د اَلِف يو عدد دے، د لَام: 30- د مِيم: 40- 30+40+1، ټول 71 شول- داسې يې حساب ولګولو او اوئې وئيل: لٰهذا چې کوم يو دِين صرف 71 کاله پاتې کيدونکے دے زۀ پۀ هٰغه دِين کښې ولې داخل شم؟

د حُيَي بِن اَخطَب دا بے بنياده خبره چې يې واوريدله نو رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو بَل ځائے نه حروفِ مُقَطَّعَات ولوستل او اوئې فرمائيل: "ٓ"- حُيَي بِن اَخطَب بيا شميره شروع کړه: د اَلِف يو عدد دے، د لَام: 30، د مِيم: 40، د صَادّ: 90- 30 + 90 ، 120 شول، 120+40=160، 160 او 1، 161 شول- اوئې وئيل: د دې مطلب دا دے چې ستاسو دِين به پۀ دُنيا کښې 161 کاله وي- خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو بَل ځائے نه حروفِ مُقَطَّعَات ولوستل، اوئې فرمائيل: "آ" -

حُيَي بِن اَخطَب ووئيل: دا خو د مخکښې نه هم زيات شول، د اَلِف عدد: 1- د لَام: 30، د رَاء: 200- دا ټول 231 شول، يعني ستاسو دِين به 231 کاله پۀ دُنيا کښې وي، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو بَل ځائے نه ولوستل: "A- حُيَي بِن اَخطَب بيا شميره شروع کړه: د اَلِف عدد: 1، د لَام: 30، د مِيم: 40، د رَاء: 200- 200+30+40+1، دا ټول: 271 شول- داسې خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حروفِ مُقَطَّعَات لوستل، حُيَي بِن اَخطَب د عِلمُ الاَعداد مطابق شميره کوله، اخر هغۀ پريشانه شو او اوئې وئيل: اے مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پريږدئ! زۀ پۀ دې راز نۀ پوهيږم- (1)

---

1... تفسير دُرِّ منثور، پاره:1، سورۀ بقره، زيرِ آيت:1 ، جلد:1 ، صفحه:57-58۔

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے د قرآنِ کریم هم او د صاحِبِ قرآن، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم---!!

ترے آگے یُوں ہیں دَبے لچے، فُصَحا عرب کے بڑے بڑے
کوئی جانے مُنہ میں زباں نہیں، نہیں بلکہ جسم میں جاں نہیں(1)

## د حروفِ مُقَطَّعات ایمان تازه کوونکے تاوِیل

بهر حال! حروفِ مُقَطَّعَات راز دے، د دې معنیٰ څۀ ده، دا الله پاک ته بهتره معلومه ده یا د الله پاک رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلومه ده- البته مفسرينِ کرامو، علمائے کِرامو د قرآن او د حديث په رڼا کښې د دې حروفِ مُقَطَّعَات جائز تاوِيلونه کړي دي، په هغې کښې يو تاوِيل دا دے چې حروفِ مُقَطَّعَات په اصل کښې قَسَمُونه دي، يعنې د **الف** نه څۀ څيز جوړيږي، الله پاک د هغې قَسم ارشاد کړلو، داسې د **لام** او د **ميم** نه هم څۀ څيز جوړيږي، الله پاک د هغې قَسم ارشاد کړلو- داسې د دريو قَسَمُونو ارشاد فرمائيلو سره الله پاک وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| لَا رَيْبَ ۛۚ فِيْهِ ۛۚ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۲﴾<br>(پاره:1، سورۀ بقره: 2) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هُغه لويه مرتبه لرونکے کتاب چې د هيڅ شك ګنجائش پکښې نشته. |

هُغه څۀ څيزونه دي؟ د **الف**، **لام** او د **ميم** نه څۀ جوړيږي؟ په دې باره کښې د مفسرينِ کرامو مختلف اقوال دي- عاشقِ ماهِ رسالت، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد

1... حدائقِ بخشش، صفحه:108۔

رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پۀ دې باره کښې ایمان تازه کوونکې خبره لیکلې ده، هغوئي فرمائي: د **الف** نه مُراد د خوږ آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قیام حالت دے۔ د **لام** نه مُراد د سرورِ عالم، د نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **رُکوع** حالت دے او د **میم** نه مُراد د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سجدے حالت دے۔ مطلب به داسې جوړیږي چې: **اے محبوبه** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! **ستاسو پۀ قیام، رکوع او پۀ سجده مې دې قَسم وي! قرآن لا ریب کتاب دے۔**

سیدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نور فرمائي: د دې یو بَل تاوِیل هم کیدے شي، هغه دا چې د **الف** نه مُراد د رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قد مبارک، د **لام** نه مُراد د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زُلفې مبارکې، د **میم** نه مُراد د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خُله مبارکه ده، نو مطلب به دا جوړیږي چې: **اے محبوبه** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! **ستاسو پۀ قد مبارک، پۀ عنبري زلفو او خوشبوداره خُله مبارکه باندې مې دې قَسم وي! چې قرآن لا ریب کتاب دے۔** [1]

وہ خُدا نے ہے مرتبہ تجھ کو دیا، نہ کسی کو ملے نہ کسی کو ملا
کہ کلامِ مجید نے کھائی شہا ترے شہر و کلام و بقا کی قسم [2]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## قرآن لاریب کتاب دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

---

1... سه ماہی رضا بک رِیْوِیُو، صفحه:653 ملخصاً۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه:80۔

لَا رَیْبَ ۛۚ فِیْهِ ۛۚ هُدًى لِّلْمُتَّقِیْنَ ۙ﴿۲﴾
(پاره:1، سورۂ بقره: 2)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هٰغه لویه مرتبه لرونکے کتاب چې د هیڅ شك ګنجائش پکښې نشته.

انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام ته دوه څیزونه پهٔ خصوصیت سره عطا کولے شي: (1): وَحي او (2): معجزه- دا دواړه بیل بیل څیزونه وي-

وَحي راځي د مخلوق د هدایت د پاره، دا لکه چې یوه دعوىٰ وي، یعنې نبي عَلَیْهِ السَّلَام خلقو ته د الله پاک کلام بیانوي او لکه چې دا دعوىٰ کوي چې زهٔ د الله پاک نبي یم، او دا کلام الله پاک پهٔ ما باندې نازِل کړے دے- د دې دعوې د دلیل د پاره انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام ته معجزې عطا کولے شي، یعنې خلق چې کله دلیل غواړي چې مونږه څنګه اومنو چې تاسو د الله پاک نبي یئ نو انبیائے کرام عَلَیهِمُ السَّلام معجزې ښکاره کوي- لکه څنګه چې حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د فرعون دربار ته تشریف یوړلو، د نبوت اِعلان یې وفرمائیلو نو فرعون پهٔ دې باندې دلیل وغوښتو، حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام خپله اَمسا [یعنې عصا] کومه چې د لرګي وه، پهٔ زمکه باندې وغورځوله، نو د هغې نه فوراً مار جوړ شو- دا معجزه وه-

دغه شان نورو انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام ته هم دا دوه خصوصي څیزونه وَحي او معجزې عطا کولے شي خو قربان شم! الله پاک خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ناشنا شان عطا کړے دے- الله پاک سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته بے شمیره معجزې خو عطا کړې دي، د دې سره سره چې یې پهٔ هغوئي باندې کومه وَحي نازله کړله، د قرآنِ کریم کوم کلام یې چې پرې نازل کړو، هغه یې هم د هغوئي معجزه جوړه کړه- یعنې پهٔ نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې یې د داسې شان والا وَحي نازله کړله چې فرض کړئ د قرآنِ کریم سره بله څهٔ معجزه نهٔ وے عطا کړے شوې، نو بیا هم

قرآنِ کریم پخپله د دې خبرې دلیل دے چې دا د یو بنده نهٔ بلکې د اللہ پاک کلام دے۔

## قرآن او صدقاتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

وګورئ چې کافرانو پهٔ رښتوني نبي، ښه نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې اعتراض کړے وو:

بَلْ قَالُوْۤا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍۭ بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚۖ (پاره:17، سورۂ انبیا:5)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بلکې (کافرانو) ووئیل: د دروغو خوبونه دي بلکې پخپله دې (نبي) له خپله طرفه راجوړ کړي دي بلکې دا شاعر دے۔

دا کافرانو پهٔ رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې (مَعَاذَ اللّٰہ!) اعتراض وکړو چې کوم کلام ته تاسو وَحي وایئ، دا د اللہ پاک کلام نهٔ دے۔ پهٔ دې باندې د دې ثابتولو د پاره چې دا واقعي ده چې د اللہ پاک کلام دے او نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واقعي ده چې د اللہ پاک رښتونے نبي دے، د یو بیل دلیل ضرورت نهٔ وو، اللہ پاک وفرمائیل:

وَ اِنْ كُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۪ وَ ادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ(۲۳) (پاره:1، سورۂ بقره:23)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او که ستاسو د دې کتاب پهٔ باره کښې څهٔ شك وي کوم چې مونږ پهٔ خپل خاص بنده باندې نازل کړے دے نو تاسو د دې پهٔ شان یو سورت راوړئ او د اللہ نه سِوا خپل ټول مددګاران هم راوبلئ۔

یعنې اے د مکې کافِرانو! که ستاسو شک وي چې د دې کوم کلامِ مجید چې زمونږه محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تلاوت کوي، دا د اللہ پاک کلام نهٔ دے نو بیا داسې کلام تاسو هم

جوړ کړئ او راوړئ! تاسو وایئ: دا قیصې دي، نو داسې قیصې تاسو هم جوړې کړئ ! که دا شاعِري ده نو تاسو د شاعرۍ په میدان کښې ډیر ماهران یئ، تاسو هم داسې شاعري وکړئ او ویې ښایئ! او بیا دا هم ضروري نهٔ ده چې پهٔ تاسو کښې څوک یو کَس داسې وکړي، نه ---!! تاسو ټول اَهلِ عرب یو ځائے شئ! د ټولې دُنیا شاعران راجمع کړئ! ټول شریکه داسې کلام جوړ کړئ او ویې ښایئ! که جوړ یې نهٔ کړئ او یقیناً چې تاسو به یې جوړ نکړے شئ نو اومنئ چې دا کلامِ مجید، قرآنِ کریم د کوم انسان نهٔ بلکې د **الله رَبُّ الْعٰلَمِیْن** کلام دے او زمونږه محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے نبي دے-

معلومه شوه چې نورو انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام ته به بیله وَحي عطا کیدله، معجزه به ورته بیله عطا کولے شوه خو د محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمناشنا شان دے چې الله پاک هغوئي سراسر معجزه هم جوړه کړله او ورسره ورسره یې ورته وَحي هم عطا کړله کومه چې صرف وَحي نهٔ بلکې معجزه هم ده او دا (یعني قرآنِ کریم) دائمي معجزه ده، خوږ آقا، احمدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنیا نه ظاهري پرده فرمائیلې ده خو د وَحي معجزه (یعني قرآنِ کریم) اوس هم موجود دے، تر قیامته پورې راتلونکے یو کَس دې دا قرآنِ کریم راواخلي، پهٔ رښتوني زړهٔ سره، د تَعَصُّب د نظر نه دې یې بغیر ولولي، ځان دې پرې پوهه کړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! وائي به چې خوږ آقا مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک رښتونے نبي دے-

## د غیر مسلمه ډاکټر اِعتِراف

نن د سائنس دور دے، څهٔ موده مخکښې چې کله الټراساؤنډ مشین نهٔ وو ایجاد شوے، سائنسدانانو لا پهٔ دې باره کښې تحقیقات کول، چې د مور پهٔ خېټه کښې ماشوم څنګه جوړیږي؟ نُطفَه یو دَم انساني شکل اِختیاروي که د مختلفو مرحلو نه راتیریږي او د هغې

نه پس انساني شکل اختیاروي؟

د امریکې یو ډاکټر وو: مارشَل جَونسَن، هغهٔ هم پهٔ دې تحقیقي ټیم کښې شامل وو- یو ځل د هغهٔ د یو مسلمان سره ملاقات وشو، پهٔ ملاقات کښې مسلمان د قرآنِ کریم دا آیت ډاکټرانو ته بیان کړو (اللہ پاک فرمائي):

وَ قَدۡ خَلَقَكُمۡ اَطۡوَارًا ﴿۱۴﴾

(پاره:29، سورۂ نوح:14)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** حالانکې هغهٔ تاسو د ډېرو حالتونو نه د تیرولو سره جوړ کړئ-

ډاکټر جونسَن پهٔ کرسئ باندې ناست وو، چې کله هغهٔ دا آیت واوریدو نو حیران شو او یو دَم ودریدو او پهٔ حیرانتیا سره یې ووئیل: دا ممکن نهٔ دہ، پهٔ قرآن کښې داسې آیت نشي کیدے- مسلمان هغهٔ ته دا آیت وښودلو او ورسره یې نور آیتونه کوم چې د انسان د تخلیق پهٔ باره کښې دي هغه یې هم وښودل، دا یې چې ولیدل نو ډاکټر ووئیل: دوه صورتونه کیدے شي: (1): یا خو د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره الټرا ساؤنډ مشین وو، هغوئي د الټرا ساؤنډ پهٔ ذریعه وکتل او دا کلام یې جوړ کړو، خو دا نشي کیدے، 1400 کاله مخکښې د الټرا ساؤنډ مشین تصور هم نهٔ وو، ځکه بیا (2): دویم صورت هم دا دے چې دا د کوم انسان نهٔ بلکې د اللہ رَبُّ الۡعٰلَمِین کلام دے او مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللہ رښتونے رسول دے-

سُبۡحٰنَ اللہ! معلومه شوه چې د قرآنِ کریم لَارَیب کتاب کیدل هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو نعت دے- مونږه چې وایو چې د **الحمد** د الف نه واخله تر د **وَالنّاس** د سِین پورې ټول قرآن د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت دے، دا هم بالکل رښتونې خبره دہ، وګورئ چې د قرآنِ کریم هر یو لفظ، هر یو آیت،

که د هغې معنیٰ هر څۀ هم وي، هغه د خوږ آقا، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ د صداقت دلیل دے، یعنې د قرآنِ کریم هر یو آیت دا بیانوي چې

| | |
|---|---|
| صدق نے تجھ میں یہاں تک تو جگہ پائی ہے | کہہ نہیں سکتے اُلش کو بھی تو جھوٹا تیرا |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د قرآن د لارَیب کیدلو مختلفې وجهې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَا رَیۡبَ ۚۛ فِیۡهِ ۚۛ هُدًی لِّلۡمُتَّقِیۡنَ ۙ﴿۲﴾<br>(پاره:1، سورۀ بقره: 2) | ترجمۀ کنزُ العِرفان: هٰغه لویه مرتبه لرونکے کتاب چې د هیڅ شك ګنجائش پکښې نشته. |

**قرآنِ کریم لارَیب** کتاب **دے** علمائے کرام د دې مختلفې وجهې، د مختلفو اړخونو نه بیان کړې دي-

## (1): د قرآنِ کریم جامعیت

**د قرآنِ کریم د لارَیب** کیدلو یوه وجه دا ده چې دا ډیر جامِع کلام دے، د دۀ پۀ یو یو لفظ کښې د عِلم داسې سمندر اینبودلے شوے دے چې د انسان عقل ورته حیران پاتې شي ❁ **سُورۀ اِخلاص** مختصر شان سُورت دے، ټول پکښې 4 آیتونه، 15 الفاظ او صرف 47 حرفونه دي- [1] پۀ دې 15 لفظونو کښې د تَوحِید پوره عِلم بیان کړے شوے دے، علمائے کرامو د **سُورۀ اِخلاص** پۀ تفسیر کښې پۀ سوؤنو صفحاتو مشتمل کتابونه لیکلي

1... تفسیرخازن، پاره:30 ، سورۀ اخلاص، جلد:4 ، صفحه:496۔

دي ❁ هُم داسې د **سُورۀ کَوثَر**، صِرف درې آیتونه او 10 لفظونه دي- [1] په دې 10 لفظونو کښې داسې د کمال په انداز کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان بیان کړے شوے دے او د عِلم داسې لعلونه په دې کښې کېښودلے شوي دي چې واه! سُبْحٰنَ الله! د **سُورۀ کَوثَر** په تفسیر کښې هم علمائے کرامو پوره پوره کتابونه لیکلي دي ❁ بیا **سُورۀ فاتِحه**، د دې خو هُم خومره ښکلے شان دے، د دې ټول: 27 لفظونه دي، [2] په دې 27 لفظونو کښې د څه کم یا زیاتو د 104 اسماني کتابونو خُلاصه بیان کړے شوې ده- [3]

داسې جامِع کلام، په یو څو لفظونو کښې دومره معاني کېښودل، د عِلم داسې سمندرونه راځائے کول د انسان د وَس کار نۀ دے، یقیناً چې دا د الله رَبُّ اَلعٰلَمِین کلام دے-

## غیر مسلمه کلمه ولوستله او مسلمان شو

یو ځل د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مسجدِ نبوي شریف کښې ارام فرمائیلو، ناڅاپه هغوئي واورېدل چې څوک په تیز اواز د شهادت کلمه وائي- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې سترګې وغړولې او اوئې کتل نو یو غیر مسلمه وو- هغوئي د هغۀ نه د شهادت د کلمې وئیلو وجه اوپوښتله نو هغۀ ووئیل: ما تورات، زبور او انجیل شریف لوستلي دي، اوس ما د یو کَس نه د قرآنِ کریم تلاوت واورېدلو، هغۀ دا آیت لوستلو:

---

1... تفسیرخازن، پاره:30 ، سورۀ کوثر، جلد:4 ، صفحه:480۔

2... تفسیرخازن، پاره:1 ، سورۀ فاتحه، جلد:1 ، صفحه:15۔

3... شُعَبُ الْایمان، جلد:2 ، صفحه:451 ، حدیث:2371 خلاصةً۔

وَ مَنۡ یُّطِعِ اللّٰہَ وَ رَسُوۡلَہٗ وَ یَخۡشَ اللّٰہَ وَ یَتَّقۡہِ فَاُولٰٓئِکَ ہُمُ الۡفَآئِزُوۡنَ ﴿۵۲﴾

(پاره:18 ، سورۀ نور:52)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او څوک چې د الله او د هغهٔ د رسول تابعداري وکړي او د الله نه ویریږي او (د هغهٔ د نافرمانۍ) نه ویریږي نو هُم دا خلق کامیاب دي۔

هغه نوي مسلمان شوي ګس ووئیل: پهٔ تورات، زبور او انجیل کښې چې کوم تعلیمات دي، د هغه ټولو خُلاصه پهٔ دې یو آیت کښې بیان کړے شوې ده، ځکه چې کله ما دا آیت واوریدلو نو پوهه شوم چې (مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے رسول او) قرآنِ کریم واقعي ده چې د الله پاک کلام دے۔ (1)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): د قرآن پیشن ګویاني

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قرآنِ کریم د لارَیب کتاب کیدلو یوه وجه دا هم ده چې د قرآنِ کریم هر یو لفظ 100 فیصده رښتیا دے، پهٔ قرآنِ کریم کښې ډیرې زیاتې پیشن ګویانې (یعنې راتلونکې خبرې بیان) کړے شوې دي او پهٔ قرآنِ کریم کښې چې څومره پیشن ګویانې دي، ټولې مِن و عَن (یعنې 100 فیصده هو بهو) رښتیا ثابت شوې دي- د قرآنِ کریم د پیشن ګویانو صرف یو مثال واورئ!

د قبلې د بدلیدو واقعه ډیره مشهوره ده، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله پهٔ مکه مکرمه کښې تشریف فرما وو نو پهٔ نـمونځ کښې به یې د کعبې شریفې طرف

1... تفسیر قرطبی، پاره:18، سورۀ نور، زیرِ آیت:52 ، جز:12، جلد:6 ، صفحه:193۔

ته مخ اړولو، بیا چې یې کله هجرت وکړو او مدینے منورې ته یې تشریف راوړلو نو هغوئي مسجدِ اَقصیٰ قبله جوړه کړله- 17 میاشتې پس دا قبله بدله شوه او اللّٰه پاک بیا د کعبې شریفې د قبلې جوړولو حکم وکړو- د دې قبلې په بدلولو د هُغه وخت کافرانو ډیر اعتراضونه وکړل، د هغې جوابونه هم ورکړے شول- په دې موقع باندې چې کومه یوه نا اشنا او ځانګړې خبره وه، هغه دا چې د قبلې د بدلیدو نه پس لا کافرانو اعتراضونه نهٔ وو کړي چې د هغې نه مخکښې اللّٰه پاک وفرمائیل:

سَیَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِیْ كَانُوْا عَلَیْهَا ؕ
(پاره:2، سورهٔ بقره:142)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اوس به بے وقوفه خلق وائي، چې دا مسلمانان د دوئي د هُغه قبلے نه چا واړول په کومه چې دوئي مخکښې وو؟

هغوئي لا اعتراضونه کړي نهٔ دي، ډیر زر به یې کوي- اوس لږ غور وکړئ! کافِرانو به د اِسلام ختمولو د پاره ډیر زور لګولو، پیسه به یې لګوله، سازشونه به یې کول، ډیره اسانه خبره وه، ژبې د هغوئي په خُلو کښې وې، هغوئي به خپلو ژبو ته تالې لګولې وے، اعتراض به یې نهٔ کولو، که هغوئي اعتراض نهٔ کولو نو د قرآن دا آیت به دروغ ثابتیدلو چې وګورئ! قرآن وائي چې مونږه به اعتراض کوو خو مونږ خو اعتراض هډو کړے نهٔ دے- چې یو آیت دروغ شوے وے نو پهٔ ټول قرآن باندې به اعتماد نهٔ وے-

خو قربان شم! دا د **اللّٰه رَبُّ الْعٰلَمِین** کلام دے، د دهٔ هر یو لفظ رښتونے دے، څهٔ چې قرآن بیان کړل، هُغه هر څهٔ وشول- اللّٰه پاک وفرمائیل چې هغوئي به اعتراض کوي نو هغوئي واقعي چې اعتراض وکړو او رَبِّ کریم د هغوئي د اعتراضونو جوابونه هم ارشاد کړل-

# P.H.D سکالر ایمان قبول کړو

یو ***P.H.D*** سکالر وو- هغهٔ پهٔ ریاضیٔ کښې ***P.H.D*** کړې وه- هغهٔ غیر مسلمه وو- د غیر مسلمو عام طور هُم د ماشومتوب نه منفي ذهن جوړولے شي، هغوئي ته ښودلے کیږي چې قرآنِ کریم ښه کتاب نهٔ دے، ځکه هغوئي ټول عمر قرآن نهٔ لولي، نهٔ پرې ځان پوهه کوي، نهٔ پهٔ هغوئي باندې حق واضحه کیږي- خیر! دا چې کوم ***P.H.D*** سکالر وو، هغهٔ یوه ورځ سوچ وکړو چې زهٔ قرآنِ کریم لولم، د دې نه څهٔ زده کوم خو نهٔ خو پهٔ دې کښې به غلطیانې راوباسم (اَسْتَغْفِرُ الله!)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ قرآنِ کریم کښې نهٔ خو څهٔ غلطي شته، نهٔ پکښې هغهٔ راویستے شوه او نهٔ هغهٔ راویستله- بهر حال! هغهٔ د غلطیانو راویستو پهٔ نیت د قرآنِ کریم لوستل شروع کړل، غلطي خو یې څهٔ راویستله خو د الله پاک د پاک کلام پهٔ برکت سره هغهٔ کلمه ولوستله او مسلمان شو-

اَہلِ منطق سر بہ سجدہ رہ گئے | پڑھ لیا جب فلسفہ قرآن کا

هغهٔ چې قرآنِ کریم ولوستلو نو کلمه یې ولې ووئیله؟ هغه داسې کومه یوه خاص خبره وه د کومې نه چې هغهٔ متاثر شو؟ پهٔ دې باره کښې هغهٔ پخپله یو مضمون ولیکلو، پهٔ دغه مضمون کښې هغهٔ لیکلي دي: چې کله ما سُورهٔ لَهَب ولوستلو نو زهٔ پوهه شوم چې قرآنِ کریم د الله پاک کلام دے- الله پاک فرمائي:

سَیَصْلٰی نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۚ﴿۳﴾

(پاره:30، سورهٔ لهب:3)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** اوس به هغهٔ د لـمبو والا وور ته داخلیږي-

پۀ دې سُورت مبارک کښې صفا صفا وفرمائيلے شو چې ابو لَهَب دوزخي دے-*P.H.D* سکالر ليکي: غور وکړئ چې ابو لَهَب هُغه ګس دے، کوم چې به پۀ هره يوه معامله کښې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخالفت کولو، نبئ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله د نيکئ د دعوت ورکولو د پاره تللو نو ابو لَهَب به ورپسې شاته شاته تللو، نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خلقو ته د کلمې وئيلو ترغيب ورکولو او ابو لَهَب به ورپسې اوازونه کول او وئيل به يې: خلقو! د دۀ خبره مۀ اورئ- د سُورۀ لَهَب د نازليدو نه پس ابو لَهَب 10 کاله ژوندے وو يعني د ابو لَهَب سره 10 کاله وو او قرآنِ کريم (مَعَاذَالله!) دروغ ثابتول د هغۀ د ژبې پۀ سَر وو، دې بدبخته به پۀ هره يوه خبره کښې د الله او د رسول [صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] مخالفت کولو خو هغۀ دلته مخالفت ونکړو، قرآنِ کريم وئيلي وو چې ابو لَهَب دوزخي دے، دۀ به پۀ رښتوني زړۀ سره کلمه لوستلې وے او د صحابۀ کرامو [رَضِیَ اللهُ عَنْهُم] پۀ صف کښې به شامل شوے وے او وئيلي به يې وے: وګورئ! قرآن ما ته دوزخي وائي خو زۀ خو د جنتيانو پۀ صف کښې يم- خو دا قرآن دے، دا د عَلَّامُ الغُيُوب (يعني د هرې پټې خبرې نه د خبر الله کريم) کلام دے، د الله کريم پۀ ازلي عِلم کښې وو چې **ابو لَهَب** به ايمان نۀ راوړي او هغۀ واقعي ده چې ايمان قبول نکړو-

معلومه شوه چې قرآنِ کريم لارَيب کتاب دے، پۀ دې کښې د يوې ذرې برابر هم د شک ګنجائش نشته، څۀ چې قرآنِ کريم وفرمائي، پۀ هغې کښې د يوې ذرې همره هم کمے زياتے نشي کيدے، څنګه چې يې وفرمائي هم هُغسې کيږي، دا د دې خبرې دليل دے چې قرآنِ کريم لَارَيب کتاب دے، دا واقعي ده چې دا د الله پاک کلام دے- الله پاک دې زمونږه د لَارَيب کتاب فيضان نصيب کړي، د دۀ د زدۀ کولو، لوستلو، پۀ دۀ باندې د

پوهيدلو او په رښتوني زړه سره په دهٔ باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دارُ الاِفتاء اهلسُنَّت (Dar-ul-Ifta Ahlesunnat) ايپ تعارف

د دعوت اسلامي *I.T* ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)۔ دا ايپلي کيشن په ***Android*** او ***IOS*** دواړه قِسمه ډيوائسز کښې په اسانۍ سره ډاؤن لوډ کيدے شي، په دې موبائل ايپلي کيشن کښې ❁ په مختلفو موضوګانو باندې د پوښتلے شوو سوالونو جوابونه په آډيو، ويډيو او ليکلي شکل کښې موجود دي ❁ د تجارت احکام ❁ فرض علوم کورس ❁ او تجارت کورس هم په دې ايپلي کيشن کښې شامل دے۔ تاسو هم د دې ايپلي کيشن نه فائده حاصله کړئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:**

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** په سجده کښې د ښپې د يوې ګوتې خِيټه په زمکه لګول فرض دي، او د هرې ښپې د دريو دريو ګوتو خِيټه په زمکه باندې لګول واجب دي او د لسو واړو ګوتو د خِيټو په زمکه باندې لګول او ګوتې د قبلې اړخ ته ساتل سُنَّت دي۔

وضاحت: ❀ د دې مسئلې طرف ته عام طور ډېره توجه نۀ کيږي ❀ ډېر څل ليدلے شوي دي چې ښپې د زمکې نه اوچتې کړے شوې وي ❀ څوک چې پۀ زمکه باندې ښپې لګوي، پۀ هغوئي کښې داسې ډېر دي کوم چې صرف د ګوتو سرونه پۀ زمکه باندې لګوي ❀ مسئله ډېره د يادولو ده: پۀ سجده کښې پۀ لس واړه ګوتو کښې د يوې **خِيټه** پۀ زمکه باندې لګول فرض دي، د دواړو ښپو د دريو دريو ګوتو **خِيټې** لګول واجب دي او د لس واړو ګوتو **خِيټې** لګول او د ګوتو د قبلې اړخ ته کول سُنَّت دي ❀ که پۀ سجده کښې ښپې د زمکې نه اوچتې کړے شوې، يوه ګوته هم پۀ زمکه اونه لګولے شوه نو نـمونځ به يـې نۀ کيږي، بيا کول يـې فرض دي ❀ که صرف غټه ګوته يـې ولګوله، باقي ګوتې يـې اوچتې کړې نو واجب به پاتې شي، ګناه به يـې هم کيږي او نـمونځ به هم بيا کول وي- (1)

الله پاک دې مونږ ته د نـمونځ د زده کولو او پۀ صحيح انداز کښې د ادا کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا رَحِيْمُ

څوک چې هره ورځ 500 کرته **يَارَحِيمُ** لولي، دولت به بيامومي او د الله پاک د بندګانو پۀ

1... ماہنامه فيضانِ مدينه، جنوری 2018ء، دارالافتاء اہل سنّت، صفحه:14

زړونو کښې به د هغهٔ د پاره شفقت او مهرباني واچولے شي- [1] اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

| | |
|---|---|
| آستانے کا اپنے رکھ منگتا | نہ پِھرا مجھ کو دَربدر یاربّ! |
| نام کو تیرے رَٹتے رَٹتے روز | شام سے میں کروں سحر یاربّ! |

اللّٰه پاک دې مونږ ته د نـمونځ د زده کولو او پهٔ صحيح انداز کښې د ادا کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... مدنی پنج سوره، صفحه:246۔